AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

ليکوال: جيفري رابرټس
مترجم: عبدالباري جهاني

۲۰۲۰/۰۹/۱۲

# د ايزنهاور حکومت، افغانستان او اتحادونه

## ديارلسم فصل

### لومړئ برخه

د ۱۹۴۶ کال د مي په مياشت کي، د افغانستان د صدراعظم هاشم خان پر ځای باندي شاه محمودخان وټاکل سو. شاه محمود خان په ۱۹۴۹ کال کي د ملي شورا په برخه کي د هاشم خان پاليسي بدله کړه. ده د وکيلانو د انتصابولو پر ځای، ملت ته د مستقيم انتخاب حق ورکړ. خو د جون په مياشت کي، د شورا تقريباً پنځوس غړو د شاه محمودخان پر اقتصادي، سياسي او اجتماعي پاليسيو باندي ځرګند انتقادونه وکړل. په راتلونکو دريو کالو کي، دا مخالفتونه نور هم زيات سول او د هيلمند د پروژې پر ناکامی، د پښتونستان د مسلې د نه پرمختګ او د پوځ د کمزوری پر سر اختلافاتو او انتقادونو دوام وکړ؛ او بالاخره پاچا مجبور سو چي د شاه محمود خان پر ځای باندي، په ۱۹۵۳ کال کي، محمد داوود خان مقرر کړي. داوود خان خپل ورور نعيم خان د صدارت د مرستيال او خارجه وزير په حيث مقرر کړ. دوی دواړو، تقريباً لس کاله، هيواد په کڼده کنټرول کړ.

داوود خان د پاچا د کاکا زوی وو او د پوځ له صفوفو څخه را پورته سوی وو، او، د شاه محمود خان د مخالفت سره سره، په ۱۹۴۶ کال کي د دفاع وزير سو. په وروسته کي داوود خان په دې مشهور سو چي ډېر سختګير او مغرور سړی دی او ترلاس لاندي مقاماتو او سياسي مخالفينو باندي يو شان ظلم کوي. داوود خان له هغو کسانو څخه وو چي د محور له هيوادونو سره يې تماس درلود او خپل دا نيت يې نه پټاوه چي غواړي افغانستان له سمندرسره وصل کړي او له پاکستان څخه خاوره واخلي. که څه هم چي داوود خان نه له لوېديځ اونه له ختيځ بلاک سره جوړه وه خو غوښتل يې چي له دواړو سره د دوستی له لاري خپل هدف ته ورسيږي. ختيځ ته د ده ميلان، د ده د پراختياغوښتني سياست او استبدادي سلوک د دې سبب سو چي ځينو لوېديځو مقاماتو هغه يو سوشليسټ او حتی کمونيسټ وباله.

د ۱۹۵۰ د لسيزي تر نيمايي پوري د افغانستان اقتصاد د خپلو ګاونډيانو په کنټرول کي وو. د افغانستان د حمل و نقل د وسايلو محدوديت هم د هغه هيواد د ودي او انکشاف مخه نيوله. افغانستان تر لس فيصده لږ باسواده کسان درلودل او د سړي سر عايد يې په کال کي ايله پنځوس ډالره وو. اکثر افغانان په کرنه بوخت ول او د هيواد اقتصاد، تر ډېره ځايه، بارټر يا جنس په جنس تبادلي شکل درلود. په وروستيو کلونو کي د مخکوحاصلات هم ډېر لږ زيات سوي وه او يو څو فابريکې چي موجودي وې تر معياري اندازې کم توليد يې درلود. افغانستان په سيمه کي تر ټولو وروسته پاته هيواد وو.

د افغانستان د دولتي مشرانو ځوان نسل، چي زياتره يې په لوېديځ کي روزل سوي وه، د هيواد لپاره د چټک عصري کېدلو پروګرام ضروري باله. داوود خان، د مخکنيو صدراعظمانو په خلاف، د خپلو انکشافي پرژو لپاره ښه امکانات نه درلودل او چنداني يې ثمر ته ونه رسولې. داوود خان غوښتل چي د اجرائيه قوې زور ډېر زيات وي او د اجتماعي اقتصادي اصلاحاتو په پروګرام کي شخصي سکټور کمزوری او دولتي سکټور ډېر غښتلی وي. داوود خان په دې عقيده وو چي اجتماعي پرمختګ او اقتصادي وده په يوه وخت کي نه سي کېدلای. ده فکر کاوه چي سياسي اصلاحات بايد تر هغه وخته پوري وځنډيږي چي ټولنه په اقتصادي لحاظ ښه وده وکړي او د خلکو د ژوند سطح لوړه سي. داوود خان، د امان الله خان په مقابل کي، د قبايلو مقاومت دې نتيجې ته رسولی وو چي تر څو پوري عصري پوځ ونه لري تر هغه وخته پوري خپل اصلاحات نه سي عملي کولای. داوود خان په ۱۹۴۷ کال کي، د جنګ د وزير په حيث، د ساپيو د ښورش د ځپل کېدلو نظارت کړی وو او قدرت ته تر رسېدلو لږ وروسته يې له منګلو سره په جګړه کي، پخپله د قواوو قومانده پر غاړه وه. داوود خان هم د مخکني صدراعظم په څېر، د امريکا څخه د پوځي مرستو غوښتنه کوله.

داوود خان يوازي څو مياشتي مخکي له هغه قدرت ته ورسېدی چي د نړی په مطبوعاتو کي د پاکستان او امريکا د پوځي موافقتنامې په باب رپوټونه خپاره سول. ده له دغي موافقي سره سخت مخالفت وښود او وې ويل چي هسي نه



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

دا موافقتنامه پر پښتونستان باندي د پاکستان تېریو ته زور ورکړي او شوروي اتحاد ته دا پلمه برابره کړي چي افغانستان له هغه هیواد سره، دغه ته ورته، موافقي ته، په زور، مجبور کړي. په مقابل کي، داوود خان د ترکیې او پاکستان ترمنځ د موافقي هرکلی وکړ او په یوه سیمه ایز اتحاد کی یې د افغانستان د شاملېدلو طرفداري وکړه او وې ویل چي که د منځني ختیځ ټول هیوادونه په دغه راز یوه دفاعي تړون کي د شاملېدلو سره موافقه وکړي نو بیا افغانستان هم ګوښه نه سي پاتېدلای.
په ډېرو مخکنیو یاداشتونو کي، چي د ۱۹۶۰ په لسیزه او وروسته کلونو کي لیکل سوي دي، ادعا سوې ده چي د امریکا خارجه وزیر جان فوسټر ډلس غوښتل چي افغانستان په یوه پکټ کي شامل کړي مګر داوود خان د بېطرفی درېځ ټینګ کړی وو او په هر ډول لوېدیځ پکټ کي یې د شاملېدلو سره مخالفت کاوه. نور بیا وایی چي افغانستان د دوه اړخیز امنیت د قانون د مقرراتو په اساس، لازم شرایط پوره نه کړل. خو داسي شواهد نسته چي د امریکا حکومت دي کوم وخت داوود خان ته په دوه اړخیز دفاعي تړون کي د شاملېدلو چانس ورکړی وي. برخلاف، کله چي د امریکا د ملي امنیت په شورا کي، په دفاعي تړون کي د شاملېدلو لپاره د ځینو هیوادونو نومونه یاد سوي دي نو د هند په باره کي ویل سوي دي چي هغه هیواد بېطرفي اعلان کړې ده، نیپال په هند پوري تړلی بلل سوی او رد سوی دی، له کمونیسټ چین سره د سیلون د ربړو تجارت ته ګوته نیول سوې ده او چي د افغانستان نوم یاد سوی دی نو ویل سوي دي چي هغه هیواد د شوروي د اقتصادي او پوځي فشار طاقت نه لري. افغانستان، د خپلو خلکو د تمایلاتو، یا سرزوری او یا یوې ټاکلي پالیسی له مخي، په دغه راز اتحادونو کي شاملېدل نه دي رد کړي بلکه دا امریکا او پاکستان وو چي د افغانستان ملګرتوب یې ګټور نه بلکه د اوړو بار باله. هر وخت یې د افغانستان په مقابل کي د هر ډول مکلفیت څخه ځان ایستی او د افغانستان ملګرتوب یې نه غوښتی. دا د دوی مخالفت وو نه د افغانستان خاصه پالیسي چي د کابل رژیم یې د غرب له ملګرتوب څخه بې برخي کاوه.
دا چي افغانستان د امریکا او پاکستان پر موافقه باندي انتقاد کاوه د دې معنا دا نه ده چي افغانستان په غربي تړون کي شاملېدل نه غوښتل. افغانستان، په تاریخي لحاظ، څکه بېطرف پاته سوی دی چي نه یې غوښتل یا د برتانیې او یا د روسیې تر لاس لاندي ژوندی وکړي او د خپل استقلال غوښتونکی وو. افغانستان هیڅ وخت، د ګاونډیو اسلامي هیوادونو د یوه تړون له لاري، د جنوب لوېدیځي اسیا د تقویه کېدلو سره مخالفت نه دی کړی. په حقیقت کي افغانستان، په۱۹۳۷ کال کي، د سعدآباد په پکټ کي، چي وروسته ړنګ او هېر سو، شامل سوی وو.
افغانستان په ۱۹۵۵ کال کي په ډله ایز دفاعي سستم کي د شاملېدلو ملاتړ وکړ. د ۱۹۵۳ کال د فبروري په میاشت کي، په ملګرو ملتونو او وروسته په متحده ایالاتو کي د افغانستان سفیر محمد کبیر لودین د سي بي ایس ټلویزیون سره په مرکه کي وویل چي افغانستان د دسته جمعي امنیت مفکورې ته، په بشپړه توګه، متعهد دی. افغانستان هر وخت د خپلي آزادی، استقلال او د خارجي یرغل په مقابل کي د خپلي خاوري له تمامیت څخه دفاع کولو ته تیاروو.
د جمهور رئیس مرستیال ریچارډ نیکسن، چي د هماغه کال د ډسمبر په میاشت کي افغانستان ته سفر وکړ، د ملي امنیت د شورا په مقابل کي د افغاني مقاماتو د نظر په باب رپوټ ورکړ. ده وویل چي د افغانستان پاچا او صدراعظم دواړو د پاکستان، ایران، افغانستان، عراق او ترکیې ترمنځ، د شمالي اتلانتیک په څېر، یوه دفاعي تړون ملاتړ کاوه او ویل یې دا به ښه وي چي د دې هیوادونو سره د تړون په حیث مرستي وسي؛ څکه چي که له یوه یوه هیواد سره مرستي کیږي ښایی یوه بل ته تهدید متوجه کړي. پاکستان د هغوی مخالف نظر درلود.
د ملي استخباراتو له اټکلونو څخه هم داځرګندېدله چي افغانستان د متحده ایالاتو له دې کوښښونو سره چي غواړي دا سیمه په مجموع کي تقویه کړي مخالفت نه لري او له پوځي مرستو سره یې علاقه ښودلې ده. د ملي استخباراتو دغه رپوټ ویل چي د افغانستان ځیني مشران په دې عقیده دي چي متحده ایالات به له سیمي څخه د برتانیې د تلونکي قوت ځای ونیسي او دوی غواړي چي په یوه داسي دفاعي تړون کي شامل سي چي د متحده ایالاتو مرستي او وسلي ورسره وي.
ځینو مشخصو افغاني مشرانو د امریکا له وسلو سره زیاته علاقه ښودله. ځینو پوځي افسرانو خو خاصه خوښي ښودله. د دغه تړون ملاتړ زیاتره د هغه په شرایطو پوري هم مربوط وو. که د تړون په موافقتنامه کي دا شامل وای چي د شمالي ګاونډي په مقابل کي به د افغانستان تضمین کیږي، د مرستي شرایط به اسانه او د سود اندازه به یې مناسبه وي او د پښتونستان د مسلې حل هم پکښي شامل وي نو د افغانستان مشران به په تړون کي شاملېدلو ته حاضرېدل. او که د تړون شرایط داسي وای چي د شوروي د تهدید ارزښت یې نه درلودلای نو بیا افغانانو هم موافقي ته اړتیا نه درلوده.
افغانانو له متحده ایالاتو سره دا منله چي د شوروي فعالیتونه باید کنټرول سي. د افغانستان پاچاهانو د ۱۹۲۹ کال راهیسي، په هیواد کي د ننه، د شوروي اتحاد فعالیتونه محدود کړي وه او په افغانستان کي ټول کمونیسټ ګوندونه او د کمونیستي ایډیالوژی طرفدار ګوندونه غیر قانوني سوي وه او د کمونیسټانو معلوم طرفداران یې تعقیبول. حکومت د شوروي د مرستو ډېر پیشنهادونه رد کړي وه او له شوروي اتحاد سره کلتوري اړیکي یې نه ټینګول. دوی شوروي ډیپلوماټان پرله پسي څارل او حتی د کمونیستی هیوادونو سفارتونو ته یې اجازه نه ورکوله چي د افغانستان په هیڅ ژبي خپل تبلیغاتي مواد خپاره کړي؛ او په دې توګه یې خپل خلک د کمونیسټانو له تبلیغاتو څخه ګوښه ساتلي ول.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

د خارجه وزارت او د دفاع د وزارت يو ځو مقاماتو د شمالي اتلانتيک په تړون کي د افغانستان د شاملولو پيشنهاد وکړ. د خارجه وزارت د جنوبي آسيا د چارو د څانګي مرستيال جوزف ايچ سميت پيشنهاد وکړ چې که شورويانو ته په افغانستان کي د ريښو د ټينګولو اجازه ورکړه سي نو ټوله جنوبي اسيا به په خطر کي ولويږي. ده وويل چې د افغانستان جنګي قواوي به د شوروي د قواوو په مخنيوي کي موثري وي او د ګيريلايي جنګونو له لاري به د هغوی مخه ونيسي. سميت وويل چې ډېر زيات افغانان په دې عقيده دي چې امريکا دوی ته شا واړول ځکه چې د متحده ايالاتو پوځي او سياسي مامورينو د افغانستان د سروې په نتيجه کي ويلي دي چې افغانستان چنداني اهميت نه لري. سميت ويل که د افغانستان له لاسه ورکول د متحده ايالاتو ګټو ته تاوان رسوي نو موږ بايد له هغه هيواد سره پوځي مرستي وکړو.
د ۱۹۵۴ کال په کنفرانس کي، د هيات رئيس هم دغه ته ورته نظر ورکړ او وې ويل چې متحده ايالات بايد خاص کوښښ وکړي چې د افغانستان او شمالي اتلانتيک د تړون ترمنځ يو ارتباط ټينګ کړي. دوی ويل چې افغانان پوځي مرستي غواړي او د دوی له دې آرزو څخه بايد داسی ګټه واخيستل سي چې دوی تشويق کړل سي چې د شوروي د فشارونو په مقابل کي ودريږي او د سيمه ايزي دفاع ملاتړ وکړي. دوی توصيه وکړه چې له افغانستان سره دي د داسي پراخو پوځي او اقتصادي مرستو په باره کي يوه څېړنه وسي چې د پښتونستان مسله کراره کړي.
په داسي حال کي چې برتانيې افغانستان ته د هغو حايلو هيوادونو په کړی کي چې د هندوستان پر شاوخوا را ګرځېدلي او د هغه ساتنه يې کوله، د يوه مهم هيواد په سترګه کتل، د ۱۹۵۰ په لسيزه کي اکثرو امريکايانو د افغانستان سياسي وفاداری ته د شک او ترديد په سترګه کتل او ويل يې چې افغانستان په نړۍ وال اقتصاد، د سيمي په دفاع او په نړۍ واله سطح د غليم په کنټرولولو کي چنداني اهميت نه لري. پوځ يې فعال نه دی او تعرضي عمليات نه سی کولای او د سيمي له نورو هيوادونو سره د مرستي توان هم نه لري. دوی ويل چې د افغانستان پوځ ښايي د داخلي امنيت د ساتلو لپاره ښه وي خو د خارجي يرغل په مقابل کي د ټينګېدلو نه دی. بندرونه نه لري، هوايي اډې يې محدودي او په ډېر ابتدايي شکل دي، د اکمالاتو له منابعو څخه ليري دي، لاس رسی ورته نسته، سخت اوړی او سخت ژمی لري او هر وخت د شوروي د متقابل عمل تر تهديد لاندي دی.
بلي خواته داسي ښکارېدله چې شوروي اتحاد هر وخت وغواړي افغانستان د ځان کولای سي. افغانستان ته که هر څومره وسلې او پوځي مرستي ورکړه سي هغه دا زور نه سي لرلای چې د شوروي اتحاد د يرغل مخه دي ونيسي. ځرنګه چې متحده ايالاتو په هغه سيمه کي ضربتي قوه نه درلوده نو په هغه صورت کي يې د افغانستان ساتنه يوازي په اټومي قوه کولای سوای. امريکا ته بالاخره څرګنده سوه چې که په افغانستان کي ډېره لاس وهنه وکړي نو شوروي اتحاد ته به يې د عکس العمل ښکاره کولو پلمه برابره کړې وي. د ملي امنيت شورا فيصله وکړه چې د منځني ختيځ په تړون کي د افغانستان داخلېدل به، په اوسنی مرحله کي، د هغه هيواد دريځ کمزوری کړي او پخپله د تړون د کمزوري کېدلو سبب به سي. د امريکا حکومت د افغانستان څخه د دفاع کولو وظيفه پر غاړه وانه خيستله او د افغانستان له خوا يې د وسلو د غوښتلو پيشنهادونه له دې کبله رد کړل چې ويل يې شوروي ته به د افغانستان استقلال په خطر کي اچولو لپاره پلمه جوړه سي او ښايي د ګاونډيو امنيت ته هم خطر پيښ کړي. دوی وويل دا به بهتره وي چې د روسيې د يرغل په صورت کي له هغه سره د هند په نيمه وچه کي مقابله وکړو.
سره له هغه چې افغانستان په سيمه ايزو پکټونو کي د شاملېدلو سره علاقه ښودله، خو د امريکا حکومتي مقاماتو ويل چې هغه هيواد د خپل خطرناک جغرافيايي موقعيت له امله په هيڅ پکټ کي د شاملېدلو وړتيا نه لري. د هيلمند پر پروژه باندي د شوروي اتحاد انتقادونو او د افغانستان په شمال کي د ملګرو ملتونو د تحقصاتو پر سر د شوروي اتحاد اعتراض، د امريکا له حکومت سره دا انديښنه پيدا کړې وه چې افغانستان د شوروي اتحاد د تهديد په سيمه کي دی.
د امريکا د ملي استخباراتو ادارې د خپلو تحقيقاتو څخه دا نتيجه هم اخيستې وه چې افغانستان له شوروي اتحاد سره په ۱۹۳۱ کال کي يو تړون لاسليک کړی او د هغه تړون په اساس، افغانستان د لوېديځ بلاک سره په هيڅ اتحاد کي نه سي شاملېدلای ځکه چې هغه تړون دا حکم کوي چې افغانستان به په هيڅ داسي پکټ کي نه شامليږي چې هغه د شوروي اتحاد ګټو ته خطر ولري. د ملي استخباراتو ادارې د خپلو تحقيقاتو په نتيجه کي ويلي وه چې افغانستان د لوېديځ څخه وسلې او پوځي مرستي ترلاسه کولای سي خو له لوېديځ سره په تړون کي ځکه نه سي شاملېدلای چې افغانان يقينا په دې حقيقت پوهيږي چې تر ډېره وخته پوري به، حتی د متحده ايالاتو له بشپړ ملاتړ سره سره هم، د شوروي اتحاد له لوري خطر احساسوي. ځرنګه چې د پښتونستان پر سر اختلاف له پاکستان سره د هغه هيواد همکاري مشکله کړې وه نو حکومت داسي فرض کړې وه چې افغانستان ښايي، د شوروي اتحاد د ډېر سخت پوځي او اقتصادي فشار له امله، تر ډيره وخته د يوه غيرفعال بېطرف هيواد په توګه پاته سي. د امريکا حکومت په نتيجه کي، په اتحادونو کي له شاملېدلو سره د افغانستان علاقه يو تبليغاتي چال وباله او وې ويل چې افغانستان پخپله په دې پوهيږي چې په پکټونو کي د هغه هيواد شاملېدل هيڅ منطقي اساس نه لري.
په پکټونو کي د افغانستان له شاملېدلو سره د پاکستان مخالفت هم يو عامل وو. پاکستان او امريکا دواړو دا انديښنه درلوده چې، تر څو پوري د پښتونستان مسله حل سوې نه وي، يو قوي او غښتلی افغانستان به، د دې پرځای چې د شوروي اتحاد په مقابل کي مرسته وکړي، د قبايلو ښورښونو ته لمن ووهي. خو د افغانستان حکومت، د داوود خان


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

د صدارت په ټوله دوره کې، د پښتو نستان د مسلې د حلولو لپاره، له امريکا څخه مرسته وغوښته. اکثرو مقاماتو پېشنهاد وکړ چې، که د افغانستان آب او پرده خوندي سي نو، هغه هيواد د ډېرو زياتو امتيازاتو ورکولو ته حاضر دی. ځينو افغاني مقاماتو حتی پېشنهاد وکړ چې له پاکستان سره د ګمرکونو په اتحاديه او دفاعي موافقتنامه کې شاملېدلو ته حاضر دي. په امريکا کې د افغانستان سفير کبير لودين وويل چې که امريکا پاکستان ته يوه اشاره قدر وکړي هغه هيواد به د پښتنو د مسلې، يو باعزته، حل ومني.
ځينو امريکايی مقاماتو پېشنهاد کاوه چې که د افغانستان او پاکستان ترمنځ دوه اړخيزی اقتصادي پروژې پيل سي نو د دواړو هيوادونو ترمنځ به کرار کرار اقتصادي اړيکي غښتلي سي. د مثال په توګه جان جرنيګن پېشنهاد وکړ چې په کراچې کې دي افغانستان ته يو آزاد بندر ورکړه سي او د هيلمند د اوبو له برېښنا او د ورسک د بند له برېښنا څخه دي دواړه هيوادونه ګټه واخلي. د ملي امنيت د شورا تحقيقاتي هيات هم دغه ته ورته نتيجې ته ورسېدی. په داسي حال کې چې د امريکا مقامات دې نتيجې ته ورسېدل چې د دواړو هيوادونو ترمنځ همکاري به د پښتونستان مسله يوه حل ته نيژدې کړي خو تر څنګ يې دا هم ويله چې افغانستان ډېر لږ منابع لري او هغو منابعو ته يې لاس رسی هم ډېري ستونزي لري او دا منابع د امريکا د منځګړتوب ارزښت نه لري. که څه هم چې نورو حکومتي مقاماتو استدلال کاوه چې پاکستان د افغانستان د روغي جوړي له کوښښونو څخه بده استفاده کړې ده خو خارجه وزارت پر خپله خبره ولاړ وو او ويل يې چې دوي دي دا مسله په خپلو کي حل کړي.
پاکستان په دغه ټوله دوره کې د کابل د رژيم پر ضد ناروا پرپاګنډې وکړلې او، په يو شمېر موضوعاتو باندي يې، خپل دريځ سم څرګند نه کړ. د دوی دغه پروپاګنډې له متحده ايالاتو سره د افغانستان د اړېکو د ټينګېدلو مخه ونيوله او د امريکا حکومت چې څرنګه پخوا د افغانستان په باره کې څه رپوټونه اورېدلي وه، مشرانو يې پرله پسې د ټولو خنډونو او ناکاميو پړه پر افغانستان اچوله او کوم خنډونه چې پاکستان ايجادول په هغو کې يې ری نه واهه. سره له هغه چې کراچې، په پرله پسې توګه، د مرکزي حکومت له زور څخه کار اخيست خو د امريکا حکومت به ويل چې د هغه هيواد ډيموکراسي د افغانستان تر ابتدايي فيوډالي حکومت ډېره مخکې ده. نورو بيا په پاکستان کې د بنګال ستونزې او په پنجاب کې مشکلات له نظره غورځول خو د افغانستان په باره کې به يې ويل چې په هغه هيواد کې ډېر زيات قومي اختلافات موجود دي، د کاروبار ستونزې دي او منورين يې له حکومت سره اختلافات لري او هغه هيواد د باروتو پر بوجۍ ناست دی. ځينو حتی د پاکستان په دې بېځايه ادعاوو باور کاوه چې ويل يې افغانستان په اجتماعي لحاظ د منځنيو پېړيو په حالت کې دی او ډېر ژر به ټوټې ټوټې سي او داخلي جنګونه او انارشي به پکښې پيل سي.
اکثرو امريکائی مقاماتو د پښتونستان داعيه ځکه ردوله چې ويل يې د افغانستان حکومت دا مسله د خپلو داخلي ناراضيانو د توجه اړولو لپاره را منځته کړې او توده ساتلې ده او ځينو به ويل چې افغانستان د خاوري دعوه سمندر ته د رسېدلو لپاره راپورته کړې ده. چنداني چا د افغانستان د قومي مسلې پر ادعا باندي غوږ نه نيوی او نه يې د هغه هيواد قانوني اقتصادي ستونزو ته توجه کوله. ډېرو افغانستان ته په داسي سترګه کتله چې هسي ناکراري جوړوي او مطلب يې د پاکستان ورانول دي. انګوس وارډ خو ويل چې د افغانستان موقف د پراختيا غوښتنو پر خوبونو ولاړ دی او مطلب يې د خپلي قبيلوي انارشی ساتل دي. ده ويل چې امريکا بايد، تر يوه بل مناسب فرصت پوري، له افغانستان سره مذاکرات معطل کړي. که څه هم چې خارجه وزير ډلس ويل چې د پاکستان او افغانستان ترمنځ د مذاکراتو د پيل کېدلو لپاره بايد کوښښ وسي او دا پخپله د پاکستان د سرتمبه دريځ په مقابل کې يو بې ګټي کار وو. امريکا د پاکستان په تقويه کولو سره، عملاً دا امکان له منځه يووړ چې هغه هيواد دي له افغانستان سره يوې روغي جوړي ته حاضر سي او په دې مسله کي يې د امريکا پر بېطرفي باندي د افغانانو اعتماد تباه کړ.
ځينو امريکايي مقاماتو ويل چې د افغانستان دولتي مشران له لوېديځ سره د اړيکو طرفدار دي او پر شوروي اتحاد باندي اعتماد نه لري او غواړي چې د شوروي د حاکميت مخه ونيسي مګر څرنګه چې له هغه هيواد سره پر پوله باندي پروت دی نو د ماسکو پر زور او تهديد باندي سترګي نه سي پټولای. په داسي حال کي چې د امريکا مقاماتو دا منله چې افغانستان دونه وس نه لري چې په شوروي اتحاد کي ری ونه وهي خو له افغانستان سره يې هيڅ ډول خواخوږي نه ښودله او دا هيواد يې په دې محکوماوه چې، له لومړي سره يې دا پاليسي ده چې، غواړي له روسيې څخه د غرب په مقابل کي کار واخلي. څرنګه چې افغانستان په تاريخي لحاظ د روسيې او برتانيې تر منځ يو انډول ساتلی وو نو دوی داسي فکر کاوه چې د کابل رژيم اوس هم غواړي چې لوی قدرتونه د يوه بل په مقابل کي استعمال کړي او د هغوی له اختلاف څخه خپله ګټه واخلي. کله چې افغانستان تهديد وکړ چې نور به له ماسکو څخه مرستي ترلاسه کوي نو د امريکا حکومتي مقاماتو هغه هيواد د بې باوره او بې اعتماده په نوم وغانده او وې ويل چې فقط د خنډونو ايجادولو پاليسي يې زده ده. خو پاکستان يې، د کمونيزم پر ضد د پاليسيو د غوره کولو له امله، ستايه؛ په داسي حال کي چې هغه هيواد څو ځله تهديد وکړ چې که مرستي ورسره ونه سي نو له شمال څخه به مرستي واخلي؛ هغه ته چا هيڅ ونه ويل.
د امريکا تعصب بالاخره د ايران او افغانستان ترمنځ اړيکو ته هم ورسېدی. څرنګه چې د هيلمند رود هر وخت خپل مسير ته تغيير ورکاوه نو د دواړو هيوادونو ترمنځ يې سرحدي جنجال پيدا کړی وو. متحده ايالاتو د منځګړتوب


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

کوښښ وکړ. د ۱۹۴۸ او ۱۹۵۱ کلونو ترمنځ، د هیلمند د رود د دلتا کمیسیون دا ستونزه مطالعه کړه. افغانستان په ۱۹۵۲ کال کې د کمیسیون فیصله ومنله. ایران دا رپوټ رد کړ او تر ۱۹۵۴ کال پورې یې له افغانستان سره د خبرو له بیا پیل کولو څخه انکار کاوه. سره له هغه چې امریکا دا قضیه په سترګو ولیده او سره له هغه چې د افغانانو کلتور ته یې د ایرانیانو سپکاوی لیدی، خو سي آی اې په خپل یوه رپوټ کې ولیکل چې افغانستان په خپل دریځ کې له سرزوری څخه کار اخلي او په سیمه کې تاوتریخوالی زیاتوي.

نوربیا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ